نعمان دوست

۲۰۲۳/۱۱/۰۷

# سم روایت او غرضي تفسير

زموږ د کډوالۍ په مهال د ځينو ټوله هڅه دا وه چي څنګه دا خبره ذهن نشينه کړي چي اسلام سرحد نه لري.

دا خبره به ذات خود بيخي سمه ده؛ خو ستونزه دا وه چي غرضي تفسير يې کيده. له دې غرضي تفسيره يې موخه دا وه چي څنګه زموږ له زړونو د خپلې خاورې او جغرافيې مينه جارو شي. دا جارو ډېره خطرناکه وه/ ده؛ ځکه له دې جارو کېدو وروسته، که بيا مو خاوره د کوم (په اصطلاح مسلمان هيواد) برخه ګرځيده؛ نو هم د چا جذبات نه پاريدل. که زموږ د وطن ګريس بند سپکي او درني وسلې، ټانکونه، الوتکي، آن د جنګلک په څير د مهمو فابريکو سلامت ماشينونه ور انتقاليدل، يا د موزيم نايابه اثار مو ور ډالۍ کيدل؛ نو هم کومه خبره نه وه (۱۳۷۱_ ۱۳۷۵) چي بالاخره او متاسفانه همداسي وشول.

هغوی چي اوس هم د همدې غرضي تفسير او تعبير په جال کي نښتي؛ نو غواړم لږ ورسره خپل بې غرضه تفسير شريک کړم:

لکه مخکي چي مي وويل؛ اسلام سرحد نه لري روايت به ذات خود بيخي سم دی. خو په لاندې تفسير:

مثلا:

لکه څنګه چي پنځه وخته لمونځ زموږ وطن کي په آهل شرايطو (عقل، بلوغ،...) فرض دی؛ همداسي په ګرده نړۍ کي په هر مسلمان فرض دی.

لکه دلته چي اسلام پنځه بناوې لري، په ټوله نړۍ کي همدا بناوې دي.

لکه دلته چي قرآن پاک څه شی حلال او څه شی حرام ګرځولي؛ په ټوله اسلامي نړۍ کي يې همدا معيار دی.

لکه د افغان مسلمان لپاره چي شرک (ظلم عظيم ) دی؛ همداسي د نړۍ د هر مسلمان لپاره همدا حکم دی او دغسي نور ديني احکام، الهي ارشادات يا نبوي لارښووني چي پرته د جغرافيوي سرحداتو له پام کي نيولو، د اطاعت وړ دي او منکرين يا ناقضين يې په هر وطن کي د خدای ج په وړاندې مسوول دي.

که څوک يې مني او که نه؛ خو خبره دا ده چي د خدای ج پراخه ځمکه په سرحدونو را ټنګه شوې. اوس هرڅوک خپله جغرافيه او خپل سرحدات لري او په لومړۍ درجه تعهد له همدې خپلې خاورې او جغرافيې سره په کار دی.

په نوره جغرافيه کي مو د خپلو خلکو قدر(!) وليده؟

رښتيا؛

ان زموږ د ټولو مسلمانانو مقدسي او ګډې قبلې ته د بل وطن مسلمان بې ويزې يا اجازې، تللی شي؟



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ